***اجراييوي لنډيز***

## 1. کوم مقصد په نظر کې دی؟

افغانستان د ډېرشو کلونو نه زيات وخت په جګړه کې بوخت دی، او دنړدی يوې لسيزې راهيسې، نړيواله ټولنه د افغانستان په سياسي، مدني او اقتصادي بيارغونه کې مرسته کوي – او د طالبانو د بيا واک ترلاسه کولو مخالفت کوي. افغانانو د دې لسيزې په اوږدو کې ډېر پرمختګونه ليدلي دي، بيا هم د هيواد په زياته برخه کې د طالبانو بيا رامنځته کېدل د دې خبرې دلالت کوي چې دوي په افغان ټولنه کې په يقيني توګه يو قوت دی چې د دوي له منځه وړل به د يو لوی قيمت لامل کيږي. يو ګڼ شمېر افغان ولس د خپلو متحاربو ډلو نه د جګړې د خبرو اترو د لارې خاتمې د پاره فکرمند ښکاري.

سوله په افغانستان کې احتمال لري، که چيرې له هرې خوا افغانان وکړی شي چې په خپلو ژورو اختلافونو قابو بياومومي او چې نړيواله ټولنه چيرې له خپل هاند او تصميم نه په شا نشی – څنګه چې نړيوالې ټولنې داسې نورې خپل سرې شخړې لکه د کمبوديا، موزمبيق، ايل سلوډور او د بوسنيا هرزيګوونيا مخنيوی کړی دی او هوارې کړې يې دي. د افغانانو او نړيوالې ټولنې دپاره يو شان بايد 2010 هغه کال وي کله چې ائتلافيان او مخاصمان د جنګي ستراتيژۍ دې پاېلې ته ورسوی چې دا جګړه بايد د توافقي سولې په ډول پای ته ورسيږی او د دغې ترلاسه کولو د پاره ضروري او جدي خبرې اترې پيل کړي.

په روانه پروسه کی دځنډ نه راتلل

دا مهال چې د افغانستان جګړې د شدت نوی خطرناک لوړوالی اختیار کړی دی، نړیواله ټولنه دا په واضحه توګه په رسمیت منلو ته چمتو ښکاري چې د افغانستان جګړه به پوځي نه بلکه سیاسي حل ولري. او د طالبانو مشرانو د حتمي بریالیتوب د ادعاوو سره سره، په طالبانو کې دننه ددې احساس نښې شته چې په وروستنیو کلونو کې د دوي پرمختګ د خپل ځان خلاف کافي مخالف قوت راپارولی دی. یو اړخ هم دا تمه نشي درلودلی چې په راتلونکي کې به دی بل ته په پوځی توګه ماته ورکړی شي. د ځنډ دا زیاتېدونکی احساس د شخړې پای ته رسولو لپاره د یوې سیاسي مرحلې پیل کولو د پاره لاره هوارولو کې مرسته کوي.

## ***د جنګ د دېګر فشارونه***

په افغان ولس کې د جنګ نه زیاتېدونکې ستړتیا پرته ده. په افغانانو کې د طالبانو تر ټولو کلک مخالفین باید دا اندازه ولګوي چې د جګړې نامحدوده اوږدوالی د دوي امنیت ته خطر پېښولی شي. د افغان دولت د ساتنې دپاره فوځونه پاتې کولو په باب په لوېدیزو هیوادونو کې دخلکو مرسته په کمېدو ده. ځینې هېوادونو ته د هغوي د پوځیانو لېږلو مالي لګښت دروند معلومیږي. د هغوي په نظر کې، طالبان د هغوي د ځانګړې اډې نه پرته د عوامو له اړخه زیاتېدونکی مقاومت سره مخامخ دي کله چې هغوي د امارت د ورځو سخت ګیره اخلاقي قانون نافذ کولو هڅه کوله. برسېره پر دې، د ژوند ښه شوی معیار کوم چې نړیوالې مرستې ځینې افغانانو ته ورکړی دی، د طالبانو د دولت لاندې ورکړی شوي معیار نه ښېخي برعکس دی. د طالبانو مشران هم فشار احساسوي چې د هغې نوي بې پرواتوب نه کوم چې ډېر خلک یې په پاکستان کې ویني د خبرو اترو یوه لاره ولټوي.

## ***د پخلاینې*** □□□□□

د سولې راوستلو لپاره د یاغیانو بې وسیاني ترلاسه کول یا لوړپوړي طالبان د کابل رژیم سره همکاری کولو ته هڅول کافي نه معلومیږي، د یاغیانو سره پخلاینې کې به باید د جګړې ختمولو لپاره دیوه پراخه سیاسي چوکاټ جوړول هم

شامل شي. واقعاً، که څه هم، خبرو اترو ته د رضامندئ اشاره ورکول به ځيني د تصميم او طاقت د پيغام کمزوري کېدل وګڼي کوم چې د پوځی عملياتو يو مهم عنصر دی. ټولې خواوې کېدی شي چې د اشارو لېږلو نه خبرداره وي کوم چې د کمزورئ د شاهدئ معنی کولی شي که څه هم د بلې خوا نه د غټو امتيازاتو غوښتنو سره اندول کيږي.

***مناسب وخت؟***

دا مهال چې ځيني د خبرو اترو نه تر هغې پورې د ګوښه کېدو سلا ورکوي چې پوځی عملياتو اندازه په واضح او نهايي ډول د دوي په حق کې وي، مونږ دا باور لرو چې د پخلاينې په لور ديوی سياسي پروسې پيل کولو وخت دا اوس دی. د حکومتي ائتلافيانو لپاره، ترټولو غوره لورليد داسې برېښي چې د دوي د وړتياوو د عروج نه مخکې وي، نه چې د طاقت سطحو مخ په ځوړ تګ لوری پيل کړي. د ياغيتوب په اړه دا خبره ده، د ملي قدرت شريکولو لپاره د خبرو اترو احتمالات نه ښکاري چې تر ۲۰۱٤ پورې انتظار کولو سره کافي روښانه شي. ددې برعکس، دا امکان چې امريکايان به يوه لاره بيامومي چې د خپلو قواوو اندازه راټيټه کړي او بيا هم د راروانو کلونو لپاره د خپل قوت پرځای ولري دا اشاره ورکوي چې کېدی شي يواځينی لاره چې دوي امريکايان په حقيقي ډول راايستلی شي هغه د خبرو اترو له لارې حل دی. د امريکا لپاره، د خبرو اترو پروسه دې ته دا موقع ورکوي چې آخري سياسي پيلامو له په زيات اعتماد سره بڼه ورکړي نه چې د اوږدې او بې نتيجې جګړې په واسطه.

د ټولو خواوو لپاره، څومره چې خبرې اترې ځنډول کيږي، همدومره په آخره کې د سولې راوستلو د پاره به لوړ قيمت وي. په داسې حال کې چې په خبرو اترو کې به مشکل اندولونه او غوارويو ټاکل شامل وي، يو داسې باوري تړون چې جګړه په داسې طريقه ودروي چې ټولو برخه والو ته د منلو وړ وي امکان لري. څومره ژر چې د سولې پروسه پيل شي دومره غوره به هغه احتمالات وي چې يوه يقيني سوله ورته د ۲۰۱٤ نه ډېر مخکې رسېدلی شي.

## 2. د جوړجاړي جوړونکی مواد

د سولې تړون بايد چې د ستونځو دوه پراخه ټولګو ته متوجه شي: په ملي کچه يو داسې سياسي نظام چې افغانانو ته په پراخه توګه د منلو وړ وي، او په نړيواله کچه د بېلابېلو نړيوالو برخه والو د خونديتوب ځانګړې ګټې او د ټولو د نړيوال

امنيت ګټي. افغانان پخپله به دا مسوليت ولري چي په کورنيو ستونځو به موافقي ته رسيږي، چي کېدی شي په هغي کي شامل وي:

- *د قدرت وېشل*. لکه د نورو پشان، د قدرت د پاره سيالي د دې جګړې مهمه برخه ده، په مرکز او ولايتونو دواړو کي. د دفاع، کورنيو چارو وزارتونه، او ښايي د ښووني او روزني او عدليې وزارتونو واک کېدی شي چي په ځانګړي توګه حساس وي.
- *سياسي نظام*. په داسي حال کي چي طالبانو د خپل قدرت په اوږدو کي د اساسي قانون يا انتخاباتو اړتيا نه ده ليدلي، د خبرو اترو له لارې ترون کي بايد هغوي داسي اصول وغواړي کوم چي هغوي ته د د خوراډېر واک ترلاسه کولو د سيالۍ لپاره د سياسي ځای او موقع تضمين ورکړي. اوسنی اساسي قانون ښايي چي د يوه نوي سياسي نظام جوړولو کي د نوې لارې په شکل کي ختم شي.
- *اداري واک*. په دولتي انتصابونو باندې واک کوم چي په موجوده قانوني دولت کي په کلکه توګه د جمهور رئيس په لاس کي دی، طالبان به دا غواړي چي مهمي ولايتي څوکۍ چي د يو ترون لاندې دوي ته ورکړی شي، جمهور رئيس په خپله خوښه نه شي لغوه کولی، که هغه حامد کرزی وي يا د هغه ځايناستی. ښايي په مرکز کي د يو نوی جوړښت، يا د واليانو د انتخاب لپاره د واکمنی سپارل، بايد جوړ شي. د موجوده انتخاب شوو خو بې اختياره ولايتي شوراګانو دپاره د بودېجي واکمني بايد د مذاکراتو په ميز ختم شي.
- *رياستي قدرت او ديموکراسي*. که څه هم طالبانو د رياستي يا پارلماني دولتونو په اړوندو وړتياو کي علاقه نه وه څرګنده کړې، يا پخپله په جمهوريت کښي، د انتخاباتو قبلول، د قدرت د سپارلو د اساس په توګه، بايد د قدرت شريکولو د ترون يو کليدي عنصر وي – او د انتخابي نظام اصلاح کول بايد جنجالي ستونځې معرفي کړي.
- *اسلام د اساسي قانون په توګه*: په داسي حال کي چي د ٢٠٠٤ کال اساسي قانون د مخکي نه د هېواد په حکمرانۍ کي اسلام په ژوره توګه ځايولی دی، طالبان ښايي د نورې ټينګې واکمنۍ لپاره فشار واچوي، د شريعت په نامه، په کالو او روش باندې، او په سياست او عدليه کي د ملايانو يا د هغو د نوماندو زيات شوي صلاحيت، د کومو چي نور افغانان مخالفت کوي.

- *بشري حقونه او د ښځو حقونه*. په اساسي قانون کې د انساني حقونو د تضمين ژغورنه، او په ځانګړي توګه د ښځو د حقونو، د طالبان د دولت سره تړلي تيرو، بايد د مناقشي ستره موضوع وي.
- *انصاف او مسوليت*. زيات افغانان – اګرچي په څرګنده توګه نه د افغان دولت او نه طالبان – په دوامداره توګه فشار اچوي، د جګړې د ظلمونو کوونکو د قضاوت لپاره په تېرو لسيزو کښې، يو معقوله لاره، د جنايتکارو نړيواله محکمې ته يوازې په هغو جرمونو باندې قانوني واک ترلاسه دی، په ۲۰۰۳ کې د افغانستان د روم د اساسنامې سره د پېوستون راهيسې.
- *افغان امنيتي ځواکونه*. د افغان ملي پوځ او ملي پوليسو کنټرول کول به په ځانګړي توګه حساس وي. طالبان به دا خبره يقيني کول غواړي چې د دوي پخواني دښمنان شمالي اتحاد د رياست اجباري طاقت واک ترلاسه نه کړي. د هغوي د جنګيالانو په پوليسو يا نورو امنيتي قواو کې ځآيول کيدای شي جنجالي ثابت شي.

د نړيوالي ټولنې دقيق امنيتي مقاصد دي، چې څنګه يو تړون افغانستان د خپلو ګاونډيانو سره مخامخ کوي او نړيوالي سرچيني به د امنيت په ټينګښت کې ډېرې مهمې وي – کومې چې به د افغانانو د تړون په ساتلو باندې متکي وي.

- *اقتصادي پرمختيا*. د افغانستان خپل اقتصاد ډېر شاته پاتی دي چې نشي کولی د هېواد امنيتي اړتياوې پوره کړي، بيا هم هغه اقتصادي او ټولنيز پرمختيا چې په پراخه توګه پکې ونډه اخيستلی شي د افغانستان د ثبات دترلاسه کولو لپاره مهمه ده. يوه پراخه لړی بسپنه کوونکو له بايد، چې پکې د سيمې نه هم شامل دي، د مرستي کولو کلک تعهد کول پکار دي.
- *څو اړخيزه پانګه اچونه*. د څواړخيزه پرمختيايي ادارو تازه شوې ژمني، په خاصه توګه د نړيوال بانک او د آسيايي پرمختيايي صندوق، به د اوږدې مودې لپاره د پانګې برابرولو لپاره د اعتماد وړ وي.
- *طبيعي سرچينې*. د افغانستان د ماليي تر ټولو ستر امکانات معدني ذخيرې دي. نړيواله ټولنه بايد د افغانستان مرسته وکړي، د استفادې په تړونونو خبرې اترې کولو کې، او د طبيعي ځيرمو د ماليي دپاره يو مناسب او څرګند قانوني چوکاټ جوړولو کښې.

- *د لوړتیاوو لوړول او زده کړه.* نړیواله ټولنه باید دې ته اړتیا ولري چې د ډېرې مودې راهیسې له نظره غورځېدلې ثانوي، مسلکي او د پوهنتون زده کړه کې مرسته کول پیل کړي، کوم چې په موثره توګه د کاروبار اداره کولو، عوامي نظم، د ښوونځیو او روغتیا لپاره د افغانانو وړتیاوو ته د ودې ورکولو دپاره مهم دي.

- *سیمه یز اقتصاد.* د پولې د کنترولولو او د تجارتي تېرېدنې سیمه یز تړون باندې باید غور وشي، د افغان د امنیت د جوړجاړي د یوې برخې یا د برابر په توګه،

د افغان سولې د جوړجاړي نړیوال امنیتي اړخونه باید دې ته اړتیا ولري چې د نورو سره دا لاندینی خبرې پکې شاملې کړي:

- *د طالبانو لخوا د القاعده او دې ته ورته نورو ډلو سره خپلې ټولې اړیکې شلول.* یوه موافقه باید شامل کړي، د طالبانو د القاعده سره د اړیکو په باوري توګه شکول او تضمینونه چې افغانستان به چیرې هم بیا بهرني ترهګرو ته پناه نه ورکوي، او د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له اړخه داسې قانوني لایحې چې په انتقالي دوره کې د ترهګرۍ ضد صلاحیتونه ته مرسته ورکړي.
- *د مخدره موادو ګواښ مخه نیول.* تړون د نړیوالې مرسته او تعاون سره باید د مخدره موادو پر خلاف پیاوړې هلې ځلې یقیني کولو ته اړتیا ولري او د ملګرو ملتونو د مخدره موادو او جرم مقاماتو ته واک ورکړی شي چې د افغان د مخدره موادو تولید او قاچاق د نژدې نه وڅاري او د تعاوني هلو ځلو د وړتیا تصدیق وکړي.
- *د بهرنیو ځواکونو ایستل.* دا د یاغیانو اساسي غوښتنه ده، او د نړیوال امنیتي مرستندویه ځواک (ایساف) ایستنه – او په خاصه توګه د امریکایي ځواکونو – به د تړون یو ضروري برخه وي. د دوي تدریجي وتل به په سیمه کې زیات دولتونه هرکلی وکړي.
- *سوله ساتونکي ځواک.* د ملګرو ملتونو د سوله ساتونکو موجودیت د سولې د ډېرو موافقو مهمه برخه ده، چې ونډه لرونکو ډلو ته قناعت ورکړي، او په افغانستان کې د سولې جوړجاړی د ملګرو ملتونو څارنې او د سوله ساتنې د پاره موجودیت ته اړتیا لري چې د جوړجاړي په عملي کېدو کې مرسته وکړي. نه په روانه جګړه کې

ښکيل ډله او نه د افغانستان په پوله پراته هيوادونه بايد د دغې قوې برخه نه شي، مسلمان هيوادونه بايد په ځانګړي توګه برخه اخيستلو ته وهڅول شي.

- *په سيمه کې د افغانستان راتلونکی موقعيت.* څنګه چې مخکې د ځينو سترو ګاونډيانو د امنيت په اړه انديښنې بيان شوې، د نړيوال جوړجاړي يو احتمالي د منځ شرط بايد افغانستان د خپلو ګاونډيانو په اړه د ناپيل توب ټاکلی تضمين وي. په سيمه کې د ټولو هيوادونو له اړخه د امنيت تضمينونه، منفي او مثبت دواړه، بايد د ملګرو ملتونو د امنيت شورا له خوا تصديق شي.

## 3. سياسي پروسې ته ورداخليدل

داسې ازمايښتي اړيکې چې پکې حکومت او ياغيان شامل وي، د ياغيانو د ځينو برخو له خوا په سياسي پروسه کې علاقه لرل څرګندوي، که څه هم د جګړې د خبرو اترو له لارې د حل د امکاناتو په باب ژور شکونه شته دی. د سياسي عمل پيل کېدو د پاره هلې ځلې – يو داسې چوکاټ چې د موقع نه ګټې واخيستلی شي، توافق يقيني کړي، په اړيکو فکر وکړي، او سيمه ييز ديپلوماتيکې هلې ځلې اداره کړي – په هر حال د عملي کېدونکي انتخابونو توضيح وکړي.

### يوه اکتشافي مرحله

ښايي د يو سياسي عمل د تثبيتولو د پاره تر ټولو زيات اميد بښونکی انتخاب به په نړيواله توګه مقرر شوي ماهر په واسطه وي څوک چې حساسې ستونځې مطرح کولی شي پرته د اړوند برخه والو د ځانګړي مذاکرتي دريځونو کمزوري کولو نه. يو ماهر کيدای شي يو کس، يوه ډله، يو هيواد يا يوه ډله هيوادونه، يو نړيواله موسسه يا د هغوی يوه مجموعه وي. د هغو سره چې په دې جګړه کې ککړ دي يا د دې په پايلو کې ونډه لري، د محتاطو تماسونو او مباحثو په واسطه يو ماهر کولی شي چې معلوم کړي چې ايا په بېلابېلو داخلي يا نړيوال برخه والو کې دومره پياوړې هم اهنګي شته

چې په یو سیاسي جوړجاړي باندې دقیقو خبرو اترو ته دوام ورکړي. ملګري ملتونه په دا ډول فراهم کولو کې خورا ډېره اداري تجربه لري، او د ملګرو ملتونو د عمومي منشي له خوا د دې مهارتي مرحلې د مشرۍ د پاره د یوه استازي ټاکل به د یوې اکتشافي دندې پرغاړه اخیستلو د پاره تر ټولو غوره انتخاب وي.

***د خبرو اترو پروسه***

سهل کارباید د ملګرو ملتونو عمومي منشي او شاید د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ته په متخصص بنیاد راپور ورکړي تر څو چې نور تشکیلات پرځای شي. له دې کبله چې ډېر نړیوال برخه وال دي، سهلکار باید دې ته اړتیا ولري چې د خبرو اترو یوه داسې پروسه جوړه کړي چې دوي پکې شامل کړي کله چې د دوي د پاره تر ټولو زیات مهم متعلقاتو باندې غور کیږي. یو پایدار نړیوال کانفرنس یوې څو اړخیز مذاکراتي پروسې له رسمي خوازه ورکولی شي. په داسې حال کې چې کانفرنس به د مذاکراتي پروسې د پیل کولو او وروستو د دې د پایلو تصدیق کولو لپاره په پوره توګه غونډه رابللی کیږي. دا کانفرنس یو دوامداره دیپلوماتیکي مقام فراهم کولی شي کوم چې به ټولو برخه والو ته د خپلو ټاکلي مذاکرات کارو د پاره د قبلولو وړ او کافي اسان وي.

د ابتدا نه د دې سره تړاو لرونکې ابتدایي متحده ډله به د افغانانو حزبونه وي کوم چې باید خپل داخلي مرکزي توپیرونه هوار کړي. نړیوال ملاتړ هم د غاړو نه مرسته کولی شي. په سیمه کې ګاونډیان، او پراخه نړیواله ټولنه به نوره هم نبغ په نبغه په موازي لارو کښې، په سیمه ییز امنیت، اقتصادي ټلواله او د جګړې څخه وروستو د امنیت ساتلو انتظاماتو باندې بوخت کړی شي کله چې افغانان د جګړې څخه وروسته حکومت کولو کې پرمختیا ښکاره کړي.

***د مخکینو شرایطو څخه هاخوا***

دواړو خواوو د خپلو دښمنانو سره غږېدلو دپاره مقدماتي شرطونه تعیین کړي دي کومو نه چې د دوي تر ټولو ستر او مهمې معاملې بریښي، خو دغه شرطونه باید دوي نور په خپلو کې د غږېدو نه منع نه کړي. په یو سیاسي جوړجاړي کې د هر یو متخصصې نکتې پوره کېدل باید د دوي هدفونه وي.

### د افغان دولت تیارۍ

د پېچلي سیاسي مذاکراتو اداره کول یو وړ او نماینده مذاکراتي ډلې ته اړتیا لري چې قوي اداري ملاتړ له ځانه سره ولري، کوم چې افغان دولت ته لا تراوسه نه ده ترلاسه. برسېره پر دې، حامد کرزی د ډول ډول خلکو څخه جوړه انتخاباتي حوضه لري د کومې په ارتباط باندې د خبرو اترو پر مهال نیوکه کېدلی شي. ډېرو افغانانو ته د مخکې نه د طالبانو د حکومت ترخه تجربه ده. د هغه لوړپوړې امنیتي شورا د یو چوکاټ په توګه کار کولی شي چې د یاغیتوب سره او د افغان اینده سیاسي نظام طرح کولو باندې د هر رقم خبرو اترو په هدفونه باندې ملي مذاکرات پیل کړی شي.

د افغانستان د پاره د ملګرو ملتونو مرستندویه مشن (یوناما) په عامو افغانانو کې اعتماد لري او په بې مثله توګه په داسې حال کې دی چې په افغاني ټولنه کې د اخري مذاکراتو په هدفونو باندې د هېواد په کچه د یوې مباحثې ملاتړ کولی شي او تصوبیولی شي. یوناما کولی شي چې د ولسوالی او ولایت په کچه د مذاکراتو او د پایلو په اړه د بېلابېلو ټولنو د اندېښنو "په شمول د امنیت او بیا استقرار ولایتي کمېټو" په موضوع خبرې اترې پیل کولو کې مرسته وکړي.

### د طالبانو بوختول

د یوې سیاسي پروسې د پاره چې د پټو مباحثو نه اخوا لاړه شي، طالبان باید د اعتماد وړ مبارزان رامخکې کړي چې د یاغیتوب او د دې د قوماندانانو د شبکې د نمایندګانو په حېث وغږېږي. د کویټې شورا اوس هم د یاغیانو د واکمنۍ یو مرکزي مقام دی. په دا مهال چې د حقاني شبکې ځینو غړو په سیاسي عمل کې د خپلې دلچسپۍ اظهار کړی دی دوي هم د کویټې شورا سره په خپلې وفادارۍ باندې زور اچوي. د ګلبدین حکمتیار د وړوکي حزب اسلامي تنظیم سره تړاو لرونکي ځیني سیاسي شخصیتونه هم د یاغیتوب ختمولو د پاره یوې سیاسي لارې په اړه اماده ښکاري. د سیاسي عمل مشري کوونکی سهلکار باید په یاغیتوب کې دننه د مشرانو د بېلابېلو ډلو سره بوخت شي او د دغې ارتباط په واسطه واضحه کړي چې د طالبانو د پاره څوک خبرې کولی شي.

د طالبانو هغه شخصیتونه چې د سیاسي لارې په حق کې اعتراف کوي باید وغواړي چې نړیواله ټولنه د مذاکراتو دپاره موافق ماحول جوړولو دپاره ځیني اقدامات وکړي، لکه د ملل متحد د بندیزونو د فهرست نه د ځینو وګړو لیري کول او بندیانو خلاصونه. په نړیواله ټولنه کې ځیني دا د جوړجاړي بشپړولو او د ښکاره کردار د یو انعام د پاره د یو پاروني په شکل کې ګڼي.

***د اعتماد جوړولو اقدامات***

سهلکار یا ګوندونو ته پخپله باید دا ګټوره ښکاره شي چې د اعتماد جوړولو د داسې اقداماتو په واسطه د راپورته کېدونکي امنیتي تړون باور قوي کړي کوم چې زیاتو سخت دریځ ملاتړو ته د سولې د پاتې کېدو په ښکاره کېدو کې مرسته وکړي. په اغیزمن انتخابونو کې باید د سیمه ییزي ډزبندۍ او د انسان دوستۍ د رسایۍ د وخته پلټنه شامل وي. په نورو دوه اړخیزه د شدت کمولو اقداماتو کې باید د ایساف له خوا د طالبانو مېداني قوماندانانو او خیالي والیان په نښه کول بندول شامل وي د طالبانو د ناڅاپي چاودیدونکي الي بریدونه د ایساف برخلاف او د افغان حکومت چارواکي په نښه کونه. د متخصصو بندیزونو فهرست ختمول او د بندیانو خوشي کول باید د اعتماد جوړولو اقداماتو یوه لړۍ پیل کړي.

**د افغان دولتداري ښه کول**

د دولتدارۍ ښه کول، د بډو او رشوت مخنیوی، او د قانون حکمراني زیاتونه باید د افغان حکومت دپاره بېړنۍ چارې وي په داسې مهال کې چې یو سیاسي عمل روان وي. په دغو باندې عمل کولو کې په دوامداره توګه ناکامي د دې بنیاد کمزوری کولی شي. ایساف او نړیواله ټولنه هم د باوري اصلاحي اقداماتو په مرسته کولو کې ګټه ده، چې په هغې کې په خپلو خصوي قراردادیانو باندې د اعتماد د کمې اصلاح کول هم شامل دي.

**د پاکستان دنده**

د پاکستان مشرانو د خپلې خوښې پخلی کړی دی چې د جګړې د سیاسي لارې هوارې کې به برخه اخلي، او طالبانو د خبرو اترو میز ته د راوستلو او د هغوي په فیصله کولو باندې اغېزه کولو په باب خپل استعداد له زور ورکړی دی. د دوی د فعال شمولیت نه پرته داسي پروسه بریالیتوب ته نه شي رسېدلی، سره له دې چې باید په دې غلط نه شي چې پاکستان د طالبانو دپاره خبرې اترې کولی شي. د ډیورنډ کرښې په شخړه، په پاکستان کې دننه د طالبانو خوندي ځایونو موجودګي، او د ځیني افغان چارواکو د پاکستان دښمنۍ احساس په وجه د پاکستان د افغانستان سره اړیکې پېچلې دي. پاکستاني چارواکي په افغانستان کې د خپلو مقاصدو ادعا د هند په حواله کوي. تمه کیږي چې پاکستان په طالبانو باندې خپل نفوذ د یوې رافعي قوې په ډول استعمال کړي چې یو سیاسي جوړجاړي د برخې په ډول خپل امنیتي مقاصد پر وړاندې بوزي.

***نور سمیه ییز برخه وال***

د طالبانو ډلو د نویو پناه ځایونو او د روزني د اسانتیاوو په ترڅ کې کوم چې په هند باندې برید کوي، نوی ډیلی د یو سیاسي جوړجاړي چې طالبانو له یو نړیوال قانونیت او د کابل په واکمنۍ کې څه ونډه ورکوي، په باب ډېر محتاطه رویه لري. بیا هم هند په افغانستان کې د خپلو تاریخي او اقتصادي اړیکو، او د امنیت جایز مقاصد دا یو داسي سیاسي جوړجاړي په واسطه په غوره توګه خوندي کولی شي نه چې بیا د ایساف د وتلو نه وروستو د افغانستان په روانه جګړه کې د طالبانو برخلاف ډلو مرسته کولو په واسطه. په افغانستان کې د طالبانو د قدرت څخه منع کولو کې د ایران مقاصد د دې امریکا دښمنۍ په وجه پېچلي شوي دي. خو د دواړه هېوادونو په افغانستان کې په اینده کې شریک مقاصد دي او دوي باید د مخدره موادو د قاچاق مخنیوي کې همکارۍ او د یاغیانو لپاره د یو ټاکلي سیاسي رول کې مرسته کې شریک لاملونه ولټوي. له پاکستان سره د چین اوږد-مهاله اړیکي د سهلکار دپاره د یو جوړجاړي په لور یوه اثاثه اثباتېدی شي. د منځني آسیا هېوادونه او روسیه هم یو داسي جوړجاړي ته اړتیا لري چې هغه د دوي د پولو د جهادي جګړه مارانو او مخدرو موادو د قاچاق برخلاف خوندي کولو زېرمي لري.

**د متحده ایالاتو رول**

متحده ایالات، چې د خپل ناټو ائتلافیانو سره ایساف ته په دوامداره توګه ریښتونې مرسته ورکوي، د نړیوالې ټولنې له اړخه د جګړې د هوارولو په لور یوه لاره جوړولو دپاره یو ضروري مذاکرات کار دی. امریکا باید د خبرو اترو د پروسې په ټولو مرحلو کې یو فعال رول لوبولو ته اړتیا ولري – د یو سهلکار د ټاکلو د پاره څو اړخیزه سلا مشورو نه راواخله تر د هغه افغان مشرانو پورې چې د خبرو اترو د لارې په لور تلو نه مخالف دي، د سهلکار سره د ځنډ د ماتولو د حل راایستلو پورې. دی باید د مذاکراتي عمل په اوږدو کې د ټولو نړیوالو برخه والو سره روانې خبرې اترې جاري وساتي، څه رنګه چې ده په ژوره توګه ځپلي پاکستان سره په ډېر صبر کړي دي او څه رنګه چې ده له د ایران سره هم کول پکار دي.